## پر ظلم او تېري باندې زغم او صبر مو نورو فتنو ته تېپيل وهي

له شک پرته اوس د بدلون لپاره هڅو ته تر بل هر وخت زياته اړتيا ده. د سختيو او ربړونو په سلګونو ډولونو د اسلامي نړۍ لورې ته مخه کړې. که اقتصادي حالت ته وکتل شي، اوسنيو چارواکو مو د پيسو نړيوال وجهي صندوق ته په پټو سترګو غاړه ايښې چې پر همدې بنسټ يې پر اولس ماليې لوړې کړي، ورسره جوخت د توکو بيې لوړې شوي، د سون توکو په نرخونو کې زياتوالی راغلی، خلکو ته د خدمتونو په چمتو کېدو کې شرايط سخت شوي او د بې وزلۍ کچه مخ پر زياتېدو ده. که امنيتي حالت ته وکتل شي، يرغلګر دښمنان زموږ د خپلو چارواکو د غفلت له امله پياوړي شوي او د دې غفلت له امله په ټوله نړۍ کې په ځانګړې توګه د ايغور، روهينګيا، فلسطين او کشمير مسلمانان ځورېږي.

موږ ټول په ژوند کې د راز راز فتنو ښکار يو او دا فتنې يوازې په هغو تېري کوونکو پورې نه دي محدودې، چې د الله سبحانه و تعالی له امر سره سمې کړنې نه ترسره کوي. الله سبحانه و تعالی فرمايي،

**﴿وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْكُمْ خَاصَّةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴾**
[الانفال:۲۵]

*ژباړه: او له هغې فتنې څخه ځان وژغورئ چې د هغې ناوړه اغېزه به په ځانګړې توګه پر هغو خلکو پورې محدوده پاتې نه شي چې په تاسو کې چا ګناه کړې وي. پوه شئ چې الله سخت سزا ورکوونکی دی*

د دې ايات په اړه ابن عباس رضي الله عنهما وايي: ( **أمر الله المؤمنين ألا يقروا المنكر بين أظهرهم فيعمهم العذاب**) الله مومنانو ته امر کړی چې د منکر کار مخه ونيسي چې تر منځ يې خپور نه شي او د هغه له امله يې په فتنه کې وانه چوي.

فتنه ډېره سخته ده او هغه ريښتني او صالح کسان راچاپيروي چې د الله سبحانه و تعالی له امر سره سم د بدلو ن لپاره هڅې کوي. ام سلمه رضي الله عنها فرمايي: ما له رسول صلی الله عليه وسلم څخه واورېدل، هغه وويل:

**«إِذَا ظَهَرَتِ الْمَعَاصِي فِي أُمَّتِي عَمَّهُمُ اللهُ بِعَذَابٍ مِنْ عِنْدِه»**

کله چې زما په امت کې ګناهونه ښکاره شي، نو د الله عذاب به يې را ګير کړي. ما وويل، اې د الله رسوله! له د وی سره به څه وشي ايا په دوی کې به صالح کسان هم وي؟ هغه وويل، هو، ما و پوښتل له دوی سره به څه وش ي؟ ده وفرمايل:

**« يُصِيبُهُمْ مَا أَصَابَ النَّاسَ ثُمَّ يَصِيرُونَ إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنَ اللهِ وَرِضْوَان»**

(احمد)

دوی ته به هغه څه ور پېښ شي چې خکو ته پېښېدل، خو دوی ته به الله بخښنه وکړي او ترې راضي به شي.

پر همدې بنسټ، له الهي عذابونو سره یوازې هغه کسان نه مخ کېږي چې د جرم اصلي مرتکبین وي، بلکې هغه کسان هم مخ کېږي چې د دوی په جرمونو خوښ نه وي. دغه راز له الهي عذاب سره هغه کسان هم مخ کېږي چې د ګناهونو او ګناهکارانو په اړه بې تفاوته وي او د ورانکارو چارواکو ته نصیحت او خیرغوښتنه نه کوي. الهي عذاب هغه کسان ځپي چې د ظالمانو د ظلمونو پر وړاندې له صبر څخه کار اخلي او دا عذاب هغو کسانو ته هم رسیږي چې د ظلم مخه نیوونکو پر وړاندې دربېږي.

زموږ دیني مقدساتو ته د تېري کوونکو د سپکاوي زغمل او ورته غاړه ایښودل ګناه ده. دا د یو فلج یا شل کس هغه بېلګه ده چې له یو بېړني ګواښ څخه په وېره کې وي او سمدواره د هغه ګواښ ښکار شي. پر ځای د دې چې د ناکرارۍ مخه ونیول شي او هوساینه رامنځته شي، پر ظلم صبر کول فتنو ته لاره هواروي، **په د**نیا کې زغم رامنځته کوي او په اخرت کې د الله سبحانه و تعالی غوسه راپاروي. پر ځای د دې چې ظلم ته غاړه کېږه شي، اسلام له موږ څخه غواړي چې د ظلم او ظالمانو پر وړاندې له واقعي مخالفت څخه کار واخلو، ترڅو مو په توان کې وي. اسلام موږ ته امر کوي چې د بدلون لپاره پیاوړي استازي و اوسو، نه دا چې د بدلون کتونکي او ننداره کونکي واوسو.

وینو چې تر دې دمه فتنو زموږ امت لوټلی، سره له دې چې د امت شمېر د چارواکو تر هغې کوچنی ډلې ډېر ز یات دی چې د ځواک څښتان دي او د دې وړتیا لري چې د خپلو زامنو، د ځواک او نصرت څښتنانو او د وسلوال و ځواکونو له لارې نوموړې فتنې لمنځه یوسي. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**« مَا مِنْ قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ بِالْمَعَاصِي هُمْ أَعَزُّ وَأَكْثَرُ مِمَّنْ يَعْمَلُونَ ثُمَّ لَمْ يُغَيِّرُوهُ إِلَّا عَمَّهُمُ اللهُ بِعِقَاب»**

**(احمد)**

هغه قوم چې په هغوی کې ګناهونه ترسره کېږي، په داسې حال کې چې دوی پیاوړي او تر هغو کسانو یې هم شمېر زیات وي چې ناوړې چارې ترسره کوي، بیا هم د هغوی د مخنیوي په موخه څه نه کوي، الله به یې په عذاب اخته کړي. ایا اوس یې وخت نه دی چې حتمي باید هر یو د بدلون په راوستلو کې رغنده رول ولوبوو، د نفوذ خاوندان مو د ظلم پر وړاندې خپل ږغ پورته کړي یا نظامي چارواکي خلافت ته نصرت ورکړي؟

هغه کسان چې د ظلم پر وړاندې له زغم څخه کار اخلي حتمي باید غور وکړي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي:

**« إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوُا الظَّالِمَ فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللَّهُ بِعِقَابٍ»**

[ ابو داود]

کله چې خلک ظالم و ویني او مخه یې و نه نیسي الله به یې ژر ټول په عذاب اخته کړي.

او هغو کسانو چې ظلم او تېري ته یې غاړه ایښې ده حتمي باید غور وکړي چې الله سبحانه و تعالی فریلي دي:

**«وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عِقَابًا مِنْ عِنْدِهِ ثُمَّ لَتَدْعُنَّهُ فَلَا يَسْتَجِيبُ لَكُم»**

(احمد)

زما دي په هغه چا قسم وي چې زما ځان د هغه په واک کې دی! چې تاسو به په ښو کارونو امر کوی او له بدیو څخه به منع کوی یا به الله پر تاسو عذاب رالېږي، بیا به تاسو غوښتنې کوی خو الله به یې نه قبلوي

له موږ څخه هغه کسان چې ادعا کوي چې د حکامو جنایتونه موږ ته نه شي رسېدای، باید غور وکړي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«مَثَلُ الْقَائِمِ عَلَى حُدُودِ اللهِ وَالْوَاقِعِ فِيهَا وَالْمُدَاهِنِ فِيهَا كَمَثَلِ قَوْمٍ رَكِبُوا سَفِينَةً فَأَصَابَ بَعْضُهُمْ أَسْفَلَهَا وَأَوْعَرَهَا وَشَرَّهَا وَأَصَابَ بَعْضُهُمْ أَعْلَاهَا فَكَانَ الَّذِينَ فِي أَسْفَلِهَا إِذَا اسْتَقَوُا الْمَاءَ مَرُّوا عَلَى مَنْ فَوقَهُمْ فَآذَوْهُمْ فَقَالُوا :لَوْ خَرَقْنَا فِي نَصِيبِنَا خَرْقًا فَاسْتَقَيْنَا مِنْهُ وَلَمْ نُؤْذِ مَنْ فَوْقَنَا :فَإِنْ تَرَكُوهُمْ وَأَمْرَهُمْ هَلَكُوا جَمِيعًا وَإِنْ أَخَذُوا عَلَى أَيْدِيهِمْ نَجَوْا جَمِيعًا»**

د هغه کس مثال چې د الله حدود قایموي د هغه کس په پرتله چې له حدودو څخه سر غړونه کوي یا لاس تر زنې کېني د هغه قوم په شان دی چې په کشتۍ کې سپاره وي، له دوی څخه ځیني د کشتۍ په کښته برخه کې وي چې ډېره بې کاره او کمزورې وي او نور بیا په لوړه برخه کې وي. کله چې د کښتني پوړ کسان اوبه غواړي نو پاسنۍ پوړ ته ځي اوبه راوړي خو دا چاره د پاسني پوړ کسانو ته مزاحمت او سر خوږی وي. نو دوی وایي راځئ چې په خپل کښتني پوړ کې سوری وکړو او اوبه ترې واخلو او په دې سره به د پورتني پوړ خلک زموږ له مزاحمت څخه خوندي وي. که د پورتني پوړ کسان دوی ته د دې کار اجازه ورکړي ټول د کشتۍ خلک به غرق شي، خو که د دې کار مخه ونیسي د ټولو ژوند به وژغورل شي. ایا اوس یې وخت نه دی را رسېدلی چې د

ظلم پر وړاندې له زغمه کار وا نه خلو او ورته تسلیم نه شو، باید د دوی د دې ناوړو کړنو مخه ونیسو، ښایي د غفلت له امله غرق شو؟!

زموږ ځینې کسان په دې اند دي چې زموږ فردي عبادت به زموږ لپاره د فتنو په مخ کې پرده شي، دوی باید غور وکړي چې زینب بنت جهش رضي الله عنها فرمايي:

**«قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ قَالَ «نَعَمْ إِذَا كَثُرَ الْخَبَثُ»**

[مسلم]

ما وویل اې د الله رسوله! ایا موږ ته به عذاب راکړل شي په داسې حال کې چې زموږ په منځ کې صالح کسان وي؟ په دې اړه هغه صلی الله علیه وسلم و ویل، هو! خو هغه مهال چې ناوړه کارونه زیات شي.

ولې دا غوره ده چې د فساد د ننګونې پر ځای فتنو ته غاړه ږدو او د لمنځه وړلو لپاره يې نه لاس په کار کېږو او له امله يې د ظلم لمن پراخېږي؟ د دوی سستۍ او ټمبلۍ ته په کتو سره، څرنګه هغه کسان چې د اسلام له لارې د بدلون لپاره کار کوي د هغو کسانو په پرتله تورن شي چې د ظلم پر وړاندې مبارزه نه کوي او فتنې لا سم له لاسه زېږوي؟ څرنګه؟ داسې مهال چې فتنه په قران کې د شرک، نفاق، نافرمانۍ، ګمراهۍ لپاره کار شوې، څرنګه يې دوی له حقې مانا څخه پرته د بلې مانا لپاره کاروي؟

په ریښتیا سره، ټول اسلام ته دعوت کول په فتنه باندې تعبیر کېږي، په داسې حال کې چې شرک فتنه ده؟ الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لا تَكُونَ فِتْنَةٌ﴾**

[البقره:۱۹۳]

*ژباړه:او دوی و وژنئ ترڅو فتنه لمنځه ولاړه شي.*

ابن خطیر فتنه د شرک په سیاق کې وګڼله. له دې سره-سره هم، الله سبحانه و تعالی فتنه تر وژلو او وینې تویو لو بده ګڼلې:

**﴿وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ﴾**

[البقره:۱۹۱]

*ژباړه: فتنه تر قتل ډېره بده ده.*

څرنګه اوازونه پورته شي د هغه څه په اړه چې الله يې حکم کوي او هغه فتنه و بلل شي په داسې حال کې چې ا لله سبحانه و تعالی حق ته شا کول، فتنه بللې؟ الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿وَاحْذَرْهُمْ أَنْ يَفْتِنُوكَ عَنْ بَعْضِ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ إِلَيْكَ﴾

[المايده:۴۹]

*ژباړه: پام کوه چې دا خلک تا په فتنه کې وا نه چوي، يوه ذره دي هم له هغه هدايت څخه وا نه ړوي چې الله تا ته لېږلی دی.*

قرطبي په خپل تفسير کې فرمايي: يصدوک و يروک (شا درته اړه وي او نه دي مني).

څرنګه يو فرمان منونکی چې د خلافت وکالت کوي په فتنه باندې تورن شي، په داسې حال کې چې فتنه نافرماني او دوه مخي ده؟

(وَلَكِنَّكُمْ فَتَنْتُمْ أَنْفُسَكُمْ وَتَرَبَّصْتُمْ وَارْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ الْأَمَانِيّ)

[الحديد:۱۴]

*ژباړه: هو، خو تاسو خپل ځان خپله په فتنه کې واچاوه، زموږ د تباه کېدو په انتظار واست. د الله سبحانه و تعالی د ژمنې په شک کې و غورځېدلی او درواغجنو هيلو تاسو وغولولی، تردې پورې چې د الله فيصله راغله.*

البغوي د دې ايت په اړه وايي: دلته د فتنې لفظ د نفاق(دوه مخی) او معاصي(نافرمانی) په سياق کې کارول شوی.

ولې هغه کسان چې د انسان په لاس جوړشويو کفري قوانينو ته بد وايي، هغوی فتنه ګڼل کېږي په داسې حال کې چې فتنه د حق په جامه کې د باطل پېښولو ته وايي؟ الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوا بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ إِلا تَفْعَلُوهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ﴾

[الانفال:۷۳]

*ژباړه: کوم کسان چې له حقه منکر دي، هغوی يو د بل ملاتړ کوي. که تاسو دا( په خپلو منځونو کې دوستي) و نه کړی نو په ځمکه کې به فتنه او ستر فساد راولاړ شي. دا نو د باطل په جامه کې د حق نښکاره کول دي او باطل پټول دي.*

په رښتیا سره، د ظالمو واکمنانو د ظلمونو پر وړاندې له زغم څخه کار اخیستل تقوا نه شي بلل کېدای او نه هم د دوی د بې اطاعتۍ پر وړاندې راپورته کېدل کومه ګناه ګڼل کېږي. هو همداسې ده! موږ ټول حتمي باید د اوسني حالت تسلیمۍ او غاړې ایښودنې ته دپای ټکی کېږدو. موږ ټول باید له هغه څه څخه کرکه وکړو چې الله سبحانه و تعالی ور څخه کرکه کوي چې هغه شرک، نفاق، بې اطاعتي، ګمراهي او له حق څخه اوښتل دي. زموږ شمېر زیات دی او موږ د خپلو وسلوالو ځواکونو د ملاتړ پر بنسټ پیاوړي یو. په دې ټولو سره سره، کله چې موږ د تېري پر وړاندې راپورته شو، د الله سبحانه و تعالی له مرستې څخه برخمن کېدای شو. کله چې په کلک هوډ سره را پاڅو، خپل چارواکي د ظلم پر وړاندې و ننګوو دا زموږ دنیوي تکلیف رفع کوي او د جزا د ورځې له حسابه مو ژغوري. خو که له سهاره مو ظلم ته د غاړې ایښودنې او زغمل تکل کړی وي، نو ماښام به په ډېر ناوړه حالت کې یو. راشئ د اوبو د ببلابېلو څاڅکو د یو ځای کېدو په څېر یو بل ته داسې لاسونه ورکړو چې سیل ترې جوړ شي او د باران د څاڅکو په څېر ځمکې پاکې او خړوبه کړو. راشئ د بدلون په لاره کې له وړو او کوچنیو خبرو تېر شو! راشئ د بدلون لپاره خپلو هڅو ته د لوی اجر لاسته راوړلو له دیده وګورو. نو راځئ چې هر یو د غچ یوه وسیله شو او نهایي اند مو د دې ستر ویاړ او اجر لاس ته راوړل وي او بس.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**ولایه پاکستان**

**مصعب عمیر**